# کوېډ-۱۹ او د خلکو غږ

خېړنیزه میاشتنی - ډیسمبر ۲۰۲۰

## • اړین ټکي

- د ژمي په رارسیدو او د کرونا وبا د دوهمې څپې له خپریدو سره ډیری برخه والو دا یادونه هم وکړه چې اوس دا ګوري چې ډيری خلک له کوره بهر ماسک اغوندي. که څه هم، د مخنیوي په لارو چارو کې مهمې ننګونې په خپل ځای پرتې دي. د بېلګې په توګه په ځینو ولایتونو کې ښځینه ګډونوالو دا ومنله چې د اقتصادي ستونزو له امله دوی نه شي کولای صابون یا د پاکوالي نور مواد وپیري. ددوی باور دادی چې حکومت په سمه توګه د خلکو ملاتړ نه دی کړی او مرستو ته لاسرسی ځینې وخت د فساد له امله زیانمنیږي. په هر صورت، ډيری کورنیو داسې احساس کاوه چې په روان ژمي کې د ژوندي پاتې کېدو لپاره مرستې او ملاتړ ته شدیده اړتیا لري.
- د معیشت له لاسه ورکول او شدیده بیکاري په کلیوالي سیمو کې د سختې بېوزلۍ، فقر او خوارځواکۍ لامل شوې، د ژمي په میاشتو کې د ژوندي پاتې کېدو لپاره د لومړنیو سرچینو نشتوالی، او له کابل او یو شمیر لویو ښارونو ور هاخوا، ډيری برخه وال د روغتیايي اسانتیاوو نشتوالي ته لا هم د یوې لوي مسلې په توګه اندېښمن دي. دا وېره مخ په ډېرېدو ده چې یو بل قرنطین به دا وضعیت لانور پسې خراب او ددوی په ژوند کې به ناوړین رامنځته کړي.
- په تېوله کې، ډيری ګډونوال د کوېډ-۱۹ لپاره د یوه داسې واکسین چې د عامې روغتیا وزارت یا د روغتیا نړیوال سازمان له خوا تایید شوی وي، مني. که څه هم، ځینې دې ته اندېښمن دي چې کېدای شي ځینې خلک د واکسین په اړه زړه نا زړه وي یا یې رد کړي. د بېلګې په توګه، ځینو ګډونوالو د دوی په سیمو کې د کوېډ-۱۹ هر ډول راتلونکي واکسین پر ضد (د ځینو ملایانو له لخوا) په ټولنیزو رسنیو کې د ګنګوسو د لیدو او اوریدو یادونه وکړه. د څېړنې د ځواب ویونکو په باور په رسنیو کې ډلیز کمپاینونه کولی شي چې خلکو ته د دې واکسین په اړه معلومات ورکړي او دوی د واکسین منلو او ترلاسه کولو ته وهڅوي.

> *"پر فیسبوک د انځورونو سره ځینې داسې متنونه خپریږي چې ادعا کوي امریکا د کوېډ-۱۹ واکسین کې داسې مواد ورزیات کړي چې کولای شي د انسان ذهن کنټرول کړي". (له کندوزه یوه ښځینه برخه واله)*

## مهمې موندنې

- په ټوله کې ځواب ویونکي د کوېډ-۱۹ واکسین په اړه مثبت برېښي

په ټولو ښځینه ولایتونو کې چې دا څېړنه ترسره شوې، نارینه او ښځینه ګډونوال دواړه دا مني چې دوی به د کوېډ-۱۹ لپاره هغه واکسین وکړي چې د عامې روغتیا وزارت او روغتیا نړیوال ســازمان له خوا دوی ته ور وپېژندل شي. ددوی په باور ددوي په ټولنه کې به ډيری خلک دا واکسین وکړي ځکه کوېډ-۱۹ له واکسـین پرته بله درملنه نه لري، که څه هم ځینو ګډونوالو وویل چې تر واکسـین ورکولو دمخه د واکسـین د اهمیت په اړه عامه پوهاوی اړین دی. سربېره پردې، دوی وویل د عامه پوهاوي کمپاین به له هغو خلکو سره چې کېدای شي واکسین رد کړي هم مرسته وکړي ترڅو یوه باخبره پرېکړه وکړي.

> *"زموږ په ټولنه کې خلک ددې لپاره لاس په دعا دي چې واکسین تولید شي. دوی باور لري چې واکسـین کولای شي ددې ناروغۍ درملنه وکړي او له همدې امله به دوی ځانونه واکسـین کړي." (له دایکندي څخه یوه ښځینه برخه واله)*

په ورته وخت کې، ددې څېړنې ځینو برخه والو دا خبره هم وکړه چې د ټولنې ځینې وګړي کېدای شي نوموړی واکسـین رد کړي، په ځانګړې توګه هغه خلک چې په ټولنیزو رسـنیو کې د واکسـین ضـد کمپاینونو تر اغېز لاندې دي او ځینې کلیوالي کورنۍ په ځـانګړې توګه ښـځې چې د هغو خلکو تر اغېز لاندې دي چې د واکسـین مخالف دي. د څېړنې ګډونوالو وویل ځینې ځایي ملایان کېدای شي د کوېډ-۱۹ واکسـین سره ددغو دریو بېلابېلو دلیلونو څخه د یوه یا دریواړو په ګډه مخالفت وکړي: دا چې کوېډ-۱۹ له منځه تللی، د واکسین د جانبي عوارضو خطر او دیني باورنه. له هلمند، بلخ او ننګرهـار ګډونوالو وویـل، په دې ولایتونو کې ځینې خلک کېدای شي د پوهاوي د نشـتوالي، د جانبي عوارضـو د خطر په اړه د ګنګوســو او دیني باورنو له امله دا واکســین رد کړي. لکه څنګه چې د نومبر په میاشــتنۍ کې یادونه شــوې وه، د هلمند، ننګرهار او کندز ځینې کلیوال خلک په دې باور دي چې ژوند او مرګ دواړه د څښـتن تعالی په لاس کې دي، او دوی د خپل ژوند ساتلو لپاره واکسین ته اړتیا نه لري.

## • د کوېډ-۱۹ دویمه څپه او ژمی

په داسې حال کې چې ټول ددې خبرې پخلی کوي چې د کوېډ-۱۹ دوهمې څپې پر ژوند اغېز کړی، بې کاري، فقر، بې وزلې او نا امنې د ټولو ګډونوالو لپاره ترټولو سترې اندېښنې وې. ځینې ګډونوال د یوه بل قرنطین څخه په اندېښنه کې و چې د دوی په باور به د سختو اقتصادي ستونزو لامل شي. دا وېره د ښاري سیمو د برخه اخیستونکو ترمنځ خورا روښانه بربښي ده ځکه ددوی دندو ته په کتو دوی اغېزمنېدونکي دي. ددې وبا د لومړی څپې تجربې ته په کتو، د مخنیوي تدابیرو ته د خلکو نه پام، او د نوموړې وبا سره د مبارزې په برخه کې د هېواد د روغتیا سکتور پر وړتیا د خلکو کم باور، د څېړنې ګډونوال د دوهمې څپې چټک خپراوي ته هم په اندېښنه کې کړي دي.

دد د هغو ولایتونو برخه وال چې سوړ ژمی لري لکه دایکندي، فاریاب او بلخ، د کرونا ویروس د دویمې څپې چټک خپراوي ته په اندېښنه کې دي ځکه ددوی په باور دغه ویروس په سړه هوا کې ډېر مقاومت کونکی دی. په لرو پرتو ولایتونو کې لکه دایکندي چې لا دمخه په کې ژمی پیل شوی، ددې ولایت جغرافیایي موقعیت او د ټرانسپورټ خرابې زیربنا ته په کتو، خلک د کوېډ-۱۹ دوهمې څپې ته په ښوارا اندېښنه کې دي. هغه سړکونه چې ددې ولایت ولسوالی له ولایتي مرکز نیلي او پلازمېنې کابل سره نښلوي ځینې مهال په ژمي کې د سختو واورو وربدو له کبله بندېږي چې په دې توګه روغتیایي مرکزونو ته د خلکو لاسرسی محدودوېږي. له همدې امله، دغه ګډونوال وایي چې په ژمي کې د کوېډ-۱۹ له امله دغلته د انساني کړکېچ د رامنځته کېدو وېره شته.

> *"په دایکندي کې خلک د کوېډ-۱۹ دوهمې څپې ته ډېر اندېښمن دي. د کوېډ-۱۹ مرکز د دایکندي په مرکز کې دی، خو د ولســـوالیو خلک او ناروغان دغه مرکز د لاسرسي په برخه کې له ستونزو سره مخ دي ځکه د سړک حالت ښه نه دی. همدارنګه په دایکندي کې روغتیایي خدمتونه ډېرلږ دي." (له دایکندي څخه د لومړی کربنې یو کارکونکی)*

## • د خلکو پر ژوند د کوېډ-۱۹ اغېزې

د کوېډ-۱۹ ترټولو څرګنده او جدي اغېزه اقتصادي ده. کوېډ-۱۹ وبا عادي ټرانسپورټي سیستم ګډوډ کړی او سیمه ییزو او نړیوالو مارکېټونو ته یې د کروندګرو لاسرسی محدود کړی ځکه ددې وبا پرمهال د هېوادونو ترمنځ پولې تړلې وې. دا چاره په کور دننه د تازه میوو لکه منو او انارو له حده د زیاتېدو سبب شوه چې په دې توګه کورني بازارونه ددې میوو د جذب وړتیا نه لري.

## • کوېډ-۱۹ لا هم ښځې او ځواني نجوني تر نورو ډېرې اغېزمنوي

> *"تېره میاشـــت مې مشـــتریان نه درلودل او د ســـالون کرایه مې هم له خپل جیبه پرې کړې ده."( له جلال اباده یوه سینګارونکې)*

سره ددې چې دغه ویروس د ټولنې په ټولو وګړو اغېز کړی، خو ښځې او نجونې او هغه خلک چې وړې سوداګرۍ لري تر نورو ډېر اغېزمن شوي دي. ددې څېړنې برخه والو هم د تېرو میاشتو په خبر د کوېډ-۱۹ له امله د خپل ځان، ددوی د ځینو ښځینه خپلوانو او ددوی د ځینو بلدي خلکو کسبي شریکې کړې چې د کوېډ-۱۹ له امله په اقتصادي او ټولنیز ډول اغېزمن شوي دي. په دې اغېزو کې د دندو له لاسه ورکول، فشارونه او رواني روغتیا، کورني تاوتریخوالي او په کوچنیوالي کې ودونه شامل دي.

ځيني سوداګرۍ لکه سینګار خونې، هوټلونه، د ودنو توکي او لوازم پلورونکي، ګنډونکي، ګلدوزۍ او هغه ښځې چې د نورو خلکو په کورونو کې د پاکوالي په برخه کې په کار بوختې وې وار دمخه د کویډ-۱۹ دویمې څپې اغېزمنې کړې دي.



په کندز ولایت کې د ښځینه ګډونوالو سره ډله‌ایزه مرکه/ بي‌بي‌سي میډیا اکشن

## • کویډ-۱۹ د بېوزلۍ، د کم عمره ودونو او په مور او ماشوم کې د خوارځواکۍ لامل شوی

> *" زه د ډېرو کم عمره نجونو د اجباري واده شاهد یم. یوازې کویډ-۱۹ د دې ستونزې لامل نه دی بلکې فقر او بېوزلي او عمومي اقتصادي ستونزې هم د اجباري ودونو لامل ګڼل کیږي. مور، جرګه راوبلله او پرېکړه مو وکړه چې په کم عمر کې د نجونو ودول کومه ستونزه نه لري، خو زوم یوازې هغه مهال کولای شي خپله ناوې خپل کور ته یوسي چې نجلۍ خپل قانوني عمر پوره کړې وي."( د ټولنیزي پراختیایي شورا غړی -هلمند)*

ددې ځېړنې ځینې ځواب ویونکي وایي د هغو اقتصادي ستونزو او سختې بېوزلۍ له امله چې ددې وبا امله رامنځته شوي دي، ځینې کورنۍ دې ته اړ شوي ترڅو خپلې ځواني نجونې د پیسو په بدل کې واده یا نورو ته ور کړي. ډیر ی دا ډول پېښې په لرو پرتو سیمو کې رامنځته شوي چې یادونه یې د هلمند، کندز او بلخ ولایتونو د ټولنیزو پرمختیایي شوراګانو د ځینو غړو او ټولنیزو مشرانو له خوا شوې ده.

همدارنګه، په ټولو هغو ولایتونو کې چې دا څېړنه ترسره شودې ده ښځې او سړي په دې اند دي چې مېرمنې روغتیایي اسانتیاوو ته په مساوي توګه لاسرسی نه لري. د ښځینه روغتیایي کارکونکو کموالی ددې ستونزې اصلي لامل بلل کیږي. د ښځینه روغتیایي کارکونکو شتون خورا اړین دی ځکه چې د دایکندي، بلخ، هلمند، کندز او ننګرهار په محافظه کاره لرو پرتو سیمو کې ښځې اجازه نه لري ترڅو درملنې لپاره روغتونونو ته ولاړې شي. دا ډول پېښې چې ډیری یې په کلیوالي سیمو کې پیښیږي تر ډېره د ځیرنې د ښځینه ګډونوالو لخوا په ګوته شوې دي.

> *"ښځې د سړیو په پرتله روغتیایي اسانتیاوو ته لږ لاس رسی لري ځکه چې د ښځینه روغتیایي کارکونکو شمیر ډېر لږ دی. زموږ ټولنه یوه دودیزه او نرواکه ټولنه ده، چیرې چې ښځې واک او اختیار نه لري چې د درملنې لپاره له کوره بهر ووځي."( د ټولنیزې پراختیایي شورا غړې -بلخ)*

په دایکندي، فاریاب او بلخ ولایتونو کې سخته لوږه او فقر د ماشومانو د خوارځواکۍ لامل شوي دي. روغتیایي کارکونکي په روغتونونو کې د ۵ کلونو څخه په کم عمره ماشومانو کې د خوارځواکۍ پېښو د زیاتوالي خبر ورکوي، ځکه میندې سم او مُغذي خواړه نه خوري ترڅو خپل ماشومان په شیدو سم ماړه کړي. د مرکې ګډونوال فقر او بېوزلي او د کورنۍ د عایداتو د سرچینې له لاسه ورکول د دې ستونزې لامل ګڼي چې د کورنیو عادي خوراکي رژیم یې اغیزمن کړی او د میندو د نا سمې تغذیې لامل شوی دی.

## د مخنیوي تدابیر

> "زه شـــاهده یم چې دوي[ډاکټرانو] احتیاطي تدابیر نه پلي کول، خو پر موږ یې بیا پلي کوي." ( زده کوونکې-کندز)

په ډیسـمبر میاشـت کې د خلکو لخوا د احتیاطي تدابیرو او روغتیایي لارښـونو په پلي کولو کې ډیر کم پرمختګ تر سـترګو کیږي. د څېړنې ګډونوال وایي چې د بلخ، کندز او فاریاب ولایتونو په ښاري سیمو کې خلک د تېرې میاشتې په پرتله اوس ډیر ماسک کاروي، خو د نورو احتیاطي تدابیرو په پام کې نه نیول اوس هم یوه ستره ستونزه ګڼل کیږي. د څېړنې ګډونوال ادعا کوي چې ډاکټران او روغتیایي کارکونکي خپله یاد تدابیر نه پلي کوي او خلک د سـطحو پاکولو ته ډیر لږ پام کوي. دا چې روغتیایي کارکونکي او چارواکي د احتیاطي تدابیرو او لارښـوونو سره سـم عمل نه کوي نو ځیني خلک داسې انګیرې چې ګواکې کوبډ-۱۹ ناروغۍ لمنځه تللې او د یادو تدابیرو او لارښونو پلي کولو ته اړتیا نشته .

په بلخ، دایکندي او کندز ولایتونو کې میندې وایي چې دوي د بېوزلۍ او فقر له کبله لوښې، جامې او ځانونه پرته له صـابون او د میکروب ضد نورو توکو مینځي.

## د کوبډ-۱۹ په اړه ګنګوسي او ناسم مالومات

د کوبډ-۱۹ په اړه ناسم مالومات او ګنګوسې:

- په بلخ ولایت کې خلک ددې ویروس د وژلو لپاره سپیلني سوځوي.
- ښـځو او سړیو اوریدلي دي چې د کوبډ-۱۹ په ځانګړو روغتیایي مرکزونو کې د کورنیو د اجازې پرته له مړو د بدن غړي باسي. نوځکه خوک نه پریږدي چې د هغو مړو د تابوت سر خلاص کړي چې د کوبډ-۱۹ له کبله مړه شوي دي.
- ښـوونځي او پوهنتونونه د کوبډ-۱۹ د خطر له کبله نه بلکې د نا امنۍ او د نا امنۍ په مخنیوي کې د حکومت د پاتې راتلو له کبله تړل شوي دي.
- له کندز او فاریاب ولایتونو څخه ښځینه برخه والو وویل په ټولنیزو رسنیو کې داسې پیغامونه او انځورونه خپریږي چې وایي امریکا په واکسـینونو کې داسې توکي ورګډ کړي دي چې کولای شي د انسـانانو ذهنونه کنټرول کړي او ځیني خو بیا وایي چې یاد واکسـین انسانانو ته نورې ناروغۍ پیدا کوي. ټول ګډونوال(ښځینه او نارینه) په دې باور دي چې کوبډ-۱۹ په افغانستان کې له منځه تللی.

## د خلکو بیړنۍ اړتیاوې


په فاریاب ولایت کې بېځایه شویو ګډونوالو سره ډله‌ایزه مرکه/ بي‌بي‌سي میډیا اکشن

د ژمي په رارسیدو سره، له بلخ، فاریاب، هلمند او کندز ولایتونو څخه د کورنیو بېځایه شـویو په ګډون په ټولو شـپږ ولایتونو کې د څیړنې ډیری ګډونوال وایي چې دوي مالي مرسـتو، خوراکي توکو، حفظ الصـحې توکو، ګرمو ژمنیو جامو او د سـون توکو ته اړتیا لري. دا په داسې حال کې ده چې ډیری ګډونوال د کوبډ-۱۹ وبا په وړاندې د حکومت په مبارزې او دا چې حکومت به د دوي دا اړتیاوې پوره کړي باور نه لري. فساد او واسطې د دې سـتونزې اصـلي لامل ګڼي. دوي په دې اند دي چې حکومت اړمنو او

زيانمنونکو کورنيو سره  په مرسته کولو کې پاتې راغلی دی. په ورته وخت کې، د ښاري سیمو ګډونوال په دې باور دي چې د ګذر وکیلان هم په فساد کې ښکېل دي او د مرستو په لړۍ کې د بې عدالتيو لامل شوي دي.

## • د خبرتي کړنلاره

په شپږو ولايتونو لکه هلمند، بلخ، فارياب، دايکندي، کندز او ننګرهار کې د کليو د پراختيايي شوراګانو غړو، فعالو خبرياالنو او روغتيايي کارکونکو په ګډون له ښځو او نارينو سره ټولټال ۳۲ ژورې او هراړخيزې مرکې او له داخلي بېځايه شويو خلکو، د راډيو اوريدونکو او همدارنګه زده‌کونکو او ميندو او پلرونو سره ۲۳ ډله‌ايزې(فوکس ګروپ) مرکې  تر سره شوې.

د کوېډ-۱۹  پرمهال د خلکو د وضعيت د ښه پوهېدو لپاره، موږ د هغوی د اوسنيوو اندېښنو، د کوېډ-۱۹ په اړه د هغوی د پوهې او مالوماتو کچې او دا چې دوی په دې برخه کې کومو مالوماتو ته اړتيا لري او د دوی د مالوماتو سرچينې کومې دي، وپوښتل.  د راډيو له اوريدونکو او د داخلي بېځايه شويو خلکو څخه وغوښتل شول چې خپلې تجربې او د ستړګو ليدلی حال له نورو سره شريک کړي او د کليو د پراختيايي شوراګانو له غړو، د لومړۍ کرښې روغتيايي کارکونکو او خبرياالنو څخه وغوښتل شول چې خپلې شخصي او د سيمې د خلکو د تجربو په اړه مالومات ورکړي. د يادو مرکو سربېره، د خبرتي موندنې او معلومات د کرونا ويروس په هکله د بي‌بي‌سي ميډيا اکشن د نورو څېړنو له موندنو سره چې د کوېډ-۱۹ ناروغۍ په برخه کې رواني دي، پرتله او ارزول شوي دي.

د خبرتي له پيلېدو مخکې، د کرونا ويروس سره د مبارزې کاري ډلې(RCCE) سره مو سلا مشوره وکړه ترڅو وکولای شو د خبرتي د پوښتنليک د چمتو کولو په لړۍ کې د دوی معلوماتي اړتياوې په پام کې ونيسو.

## • د خلکو غږ

دا څېړنيزه مياشتنۍ د افغانستان له ګوټ ګوټ څخه  د هغو خلکو د نظرونو پر بنسټ چمتو شوې ده  چې د کوويد-۱۹ له کبله اغېزمن شوي دي. د دې څېړنيزې مياشتنۍ اصلي موخه د کوويد-۱۹ په اړه د خلکو د انګيرنو او اندېښنو ته انعکاس ورکول دي، ترڅو روغتيايي او بشرپالو موسسو سره مرسته وشي چې خپل پلانونه او فعاليتونه په سمه توګه د خلکو له بنسټيزو اړتياوو سره سم، پلي کړي. دا څېړنيزه مياشتنۍ د بي‌بي‌سي ميډيا اکشن لخوا د روغتيا نړيوال سازمان او د کاناډا د نړيوالو چارو سازمان(Global Affairs Canada) په مالي مرستې چمتو شوې ده، محتوايي بي‌بي‌سي ميډيا اکشن پورې اړه لري، او پکې وړاندې شوي نظرونه بي‌بي‌سي او يا هغو تمويلونکو ادارو پورې اړه نه لري چې له خيريه چارو څخه ملاتړ کوي.

موږ د نورو ادارو او سازمانونو د لا ډېرې همکارۍ هرکلی کوو چې غواړي د خپلو اړوندو کاري سيمو څخه د خلکو نظرونه له موږ سره شريک کړي او يا د څېړنيزو خبرپاڼو په شنې او توليد کې برخه واخلي. که چېرې غواړئ له موږ سره په دې برخه کې ونډه واخلئ، مهرباني وکړئ د لاندې بريښناليک پر مټ له موږ سره اړيکه ونيسئ:

rashed.hayati@af.bbcmediaaction.org